تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپيلي، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه

محمد امين بســـمل
۲۰۱۱.۰۸.۱۸

# آيا موږ خپلواکي لرو،چې ويې لمانځو؟

## تاسو خپلواکي څه ته وایاست؟

په مخکینۍ لیکنه کې مې خپلواکي تاسو درنو لوستونکو ته تعریف کړې وه نن به زيات څه نه وربانديې ليکم يوازې تاسوقدرمنو لوستونکو ته يوڅو لنډې پوښتنې عرض کول غواړم:

۱ـ تاريخ څه او کوم څه پکې راغونډېدلای شي ؟

۲ـ په يو معين جغرافعوي موقعيت کې ، چې پېړۍ پېړۍ له سلګونو زرو تر ميليونونو پورې نفوس وجود ولري نو آيا تاريخ به ونه لري ؟

۳ـ زموږ افغان ويا ړلی تاريخ، چې د برپرې ويا ړو ولې يې په ساتنه کې پاتې راغلو؟

۴ـ د تاريخ، اوتاريخي اثارو دقيمتي خزانې ساتنه په لمړي ګام کې دولس دنده ده اوکه په هغه ولس حاکم يا تپل شوي دولت ؟

۵ـ دولت څه ډول تعريفوئ ؟

۶ـ که افغانستان دولت لري نو دعراضي دکنترول ساحه، ملي حاکميت، اداره او خپلواکي يې څنګه ارزوئ؟

۷ـ په افغانستان کې دنړيوالو زوزوروباوجود ديوې لسيزې له تېرېدو سره سره نظام جوړ نه شو نوآيا ديوګډوډ او منفورنظام دناکامواو ګمراهو ارګانونومجموعې ته دولت ويلای شئ؟

۸ـ ديوهيواد په هوائي اوځمکني حريم دپر له پسې تېريو د نه مخنيوي پړه دعادي وګړوپه غاړه ده اوکه ددولتي ارګانونويا دهغه تش په نامه دولت دباداړانوپه غاړه؟

۹ـ آيا تاسو اوس هم په دې باور ياست، چې نړيوال دوستان؟؟ دنظام جوړوني او زموږ سوکالي ته راغلي که زموږ نفاق اولا نورې تباهې ته؟

۱۰ـ کله ، چې د يو هيــواد په دننه کې د بهرنيانولخوا بمورۍ ، پرله پسې وژنې، تالاشۍ او نورې ډول ډول ځورونې ديولړ مرموزواوناولو موخو لپاره ترسره کيږي آيا تاسو هغه هيواد د اداري ښبنتن اوخپلواک ګڼئ؟

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، نابیلې، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

درنو لوستونکو !

د پورتنيو پوښتنوځوابونه له تاريخ، خپلواکي او ملي حاکميت سره مخامخ اړيکي لري پوهېږم، چې ځوابونه به يې له چا سره په يو ډول او له چا سره په بل ډول وي ، دغم په تغرناست په هيواد او خپلواکي ميينان او با احساسه کسان به افغانستان محکوم او تراشغال لاندې بولي خوهيواد پلورونکي او بې ايمانه کسان به کوم، چې په ننني رسوأ اداره کې په لوړو څوکيوسرېيښ اودمافيا ځانګړې کړی تشکيلوي په بل نظر وي.

ستاسو دوخت په پام کې نيولو سره نه غواړم پورتنی پوښتني پخپله وسپړم يوازې دومره وايم، له بده مرغه بيا هم له بده مرغه ،چې موږ خپلواکي نه لرو زموږ په هوائي اوځمکني حريم شپه اوورځ تيري کيږي خودومره ښوک نشته ، چې يا يې مخه ونيسي اويا خوکم له کمه له خپلې شرمېدلې څوکی څخه استعفأ ورکړي.

په افغان ولس ددولتي واکمنانوپه نوم تپل شوي مافيايي ښېري هيڅکله دنظام جوړوني وړتيانه لري دا ښاغلي په لوی لاس دبې ثباتي او هيواد ورانولو لپاره په قدرت نازول شوي او هريويې دبهرنيو مزدوراو جاسوس ګڼل کيږي.

دکابل د تش په نامه اداري د دری ګونوقواوو بدمعاشيو ، مسخره بازيو او سپين سترګيو وښوده، چې دوی د مملکت په کچه داداري اوحقوقي مکلفيتونو دسرته رسولو له وړتيا څخه مطلق محروم دي.

که تاسوزماد پورتنی جملې منطق راسره منئ نوداهم ومنئ، چې زموږ دملي ګټو په پام کې نيولوسره پورتني پرديپال د هيڅ ډول رسمي تړونونوحقوقي صلاحيت نه لري داکه دامريکايي پوځي هېوو په اړوند وي او که د بن په راروان دوهم مرموزکنفرانس کې د کومو نويو دسيسو په هکله وي.

زما په نظر داډېرد شرم ځای دی، چې ديوتاريخي اونامي هيواد دملي ناموس او حاکميت ساتنې لپاره زموږيو ځوبې ايمانه پلنختي(۱) ديوځي هېوو په پلمه له هغه چا سره معامله کوي، چې ديوې لسيزې په تېرېدوسره يې داسې ناوړه وسلې زموږ په بېګناه ولس وکارولې، چې اوس دهغو سيمواوسېدونکي له ګڼ شمېرخطرناکو ناروغيو سره لاس ګرېوان او يو په بل پسې له نړۍ سترګي پټوي.

دحيرانتيا اوپوښتني وړ خو دا ده، چې امريکاهمدا اوس دناټوله غړوسره يوځای په افغانستان کې له يو لک اوپنځوسو زرو څخه زيات پوځيان لري خو ددومره فزيکي اوتخنيکي حضورباوجوديې زموږ دخلګو امن تامين نه کړای شوپه سويل ختيځو سيموکي يې دزرګونو توپچي حملو په وړاندي هيڅ غبرګون ونه ښودنوکه په ۲۰۱۴ ز کال کې د دوی دا پياده قواوې ووزي بيابه نو څنګه ديوځومحدودو پوځي هېوو هغه هم هوائي او کوماندويي پرسونل اوپخپل سروبموريو سوله تأمين کړي؟

راګرزم خپلواکي او بلواکي ته.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

دالیکنه په داسې وخت کې کوم، چې د امریکا غږ رادیوله لارې مې د اوباما لخوا کرزي ته دخپلواکي د ۹۲ نویمې کلیزې دمبارکي دپیغام خبر واورېد.

هم په غوسه شوم هم خندا راغله کرزي بېچاره او ټول افغان ولس ته مې دخپل ځان په ګډون زړه بد شو .

کرزي ته د اوباما پیغام داسې راته ښکاره شولکه کرزی ، چې ماشوم اوپه عین وخت کې معیوب هم وي او

دسپینې ماښې واکمنانو یې دیوې توري دسیسې له لارې مور اوپلاردواړه ورته وژلي وي اواوس ورته وایي، چې د مور او پلار مړینه دې مبارکه شه.

تاسو په خدای باور وکړئ، چې د اوباما دې سپین سترګي ته حیران پاته شوم.

د دې ترڅنګ مې دمېرمن کلینټن خبرې هم واورېدې هغې اغلې وویل، چې موږ دکرزي دتصمیم هرکلی کوو ، چې ولسمشري ته د دریم ځل لپاره ځان نه نوماندوي.

وه ګرانو خویندو او ورونو !

اوس نو تاسو او خدای(ج) چې داپه افغانانو او د افغانستان په اساسي قانون ملنډې نه دي، چې مېرمن کلینټن یې پرې وهي ؟

امریکایانو دا لس کاله زموږ ګران افغانستان ترمرۍ نیولی، داساسي قانون په لویه جرګه یې د خپلې خوښې مواد ومنل ولسمشري ته دنوماندي لپاره یوازې دوه دورې ومنل شوې خو مېرمن کلینټن لا نه ده خبره.

په حقیقت کې ټول ښه پوهېږي خو ځانونه ناګاره (۲) اچوي.

دې ظالمانو زموږ دګران او تاریخي هیواد تجزې ته متې رانغښتي دي.

که زموږ ورونه قومونه پخپله سرښندنه ملي یووالی تأمین نه کړي هر یو به لکه تنکۍ لښته په ملا مات مات شي.

تاریخي پټان خو دپخوانیو اشغالګرو په شمول داده یوه لسیزه لوېدیځ ته د ډال په شان ټېټر نیولی خوخدای مه کړه که داتاریخي پټان مات شو بیانو زموږ دانوروروڼه قومونه په یوه اونۍ کې ویلې کوي ځکه دګرانو تاجکو ، ازبکو ، هزارو ، ترکمنو او نورو ګڼو قومونو له روڼ اندو څخه هیله کوم، چې له بل هر څه دمخه دملي یووالي

غم وخوري که نه نوموږ به یو هم پاته نه شو خو راغلي نابللي به زموږ په پلرني هیوادګران افغانستان باندې تر پېړیو واکمن پاته شي.

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواک، ناپیلي، تولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

دا ، چې د روژې مباره که میاشت ده نه غواړم ځوک وځوروم اودیوشمېر تپل شوو افغانانو نومونه ذکر کړم خو له اختره وروسته به له خیره سره بیا په بله لیکنه کې پرې غږیږو .

(۱) پلن ښتي زه هغه چاته وایم، چې سرونه یې ټیټ وي که دچاغاړه هرڅومره نرۍ هم وي خو ، چې سرځوړندمانا دغلامي پېزوان په پوزه کړي بیا یې نو دا نرۍ غړۍ پلنه ښکاري.

(۲) ناګار ځان ناخبره اچولو ته وایي.

دخپلې لیکنې په اخېرکې غواړم په مصویر ډول تاسوته قناعت درکړم، چې موږ نه سیاسي خپلواکي لرو، نه اقتصادي او د تش په نامه بیان آزادي له لاسه خو مو آن فرهنګي خپلواکي هم سلګۍ وهي.

که دافغان ویبپاڼودرانه او زړه ته رانږدې چلوونکي د تخنیکي ستونځو له مخې دا لاندې تصویرونه نه شي خپرولای درانه لوستونکي دې یاد تصویرونه بیا وروسته دنښترا و سولې په ویبلاګونوکې وګوري:

یادونــــه:

له خپلودرنوافغان ویبپاڼو چلوونکو څخه په درناوي هیله کوم، چې زمالیکنه تبصرو ته کښېنې نه ږدي، که ځوک زما دلیکنې ځواب لري له خپلې لیکنې ، تصویر او مکمل شهرت سره دې دګر ته راووزي.

مننــــــه





تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلې، ټولنیزه او فرهنګي ويب پاڼه





قوماندان ایساف اجازه ورکړه...

























تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

   

  

 






پورتني ځورونکي تصويرونه نه ما اخيستي او نه داسامه تصويرونو د کوپي شوپ په ډول کومه ډرامه ده، داهغه تصويرونه دي، چې زموږ عدم خپلواکي په ثبوت رسوي په اخېر کې مو دلاندېنيولينکونوکښېباسلو ته رابولم او له خدای (ج) څخه خپل ګران او پلرنی هیواد دزړه سر افغانستان خپلواک، سرلوړی، هوسا او بسيا غواړم.

http://www.youtube.com/watch?v=7o33l69Eiz0&feature=related

**http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/15924**